# القمر

**مکی سورة دی ۵۵ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ١

**( له هجرت نه پنځه کاله وړاندې، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په منا کې د خلکو عام محضر ته د خپلې یوې معجزې د ځرګندولو لپاره د څوارلسمې سپوږمۍ ته پخپله مبارکه ګوته اشاره وکړه او ورسره سم، سپوږمۍ دوه نیمه شوه، الله تعالی په دغه اقدام سره نړیوالو ته خبر ورکړ چې د کائناتو د دوام زیاته موده تیره شوې او د سپوږمۍ د کرې د انشقاق په شان ټول کائنات هم پخپل کامل قدرت، له منځه وړلی شی، ویې فرمایل:) قیامت رانږدې دی او سپوږمۍ دوه نیمه شوه.**

وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةً يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ٢

**او کله چې( کافران) معجزه ووینی، مخ ترې اړوی او وایی: دا له روان او زر تیریدونکی سحر او جادو غیر بل هیڅ شی نه دی.**

وَكَذَّبُواْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٍ مُّسۡتَقِرٌّ ٣

**او( له قرآن، پیغمبر او معجزاتو) منکر شول او د خپلو نفسی خواهشاتو پیروی یې وکړه،( خو د عذاب لپاره دې انتظار وباسی) بیشکه د هر کار لپاره یو ټاکلی وخت دی (چې تأخیر او تعجیل پکې نشته).**

وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزۡدَجَرٌ ٤

**دوی ته د تیرو ولسونو تاریخی پیښې په داسې ځرګند ډول بیان شوی چې پکې (د کفر، شرک او ګناهونو نه د ځان ساتنې او ورځخه) د کرکې لپاره، د عبرت درس پروت دی.**

حِكۡمَةُۢ بَٰلِغَةٞۖ فَمَا تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ٥

**( د تاریخی واقعاتو دغه معلومات) یو واضح نصیحت او پند دی( خو لجوجو ظالمانو ته) پند او تنبیه ورکول هیڅ ګټه نه لری.**

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡۘ يَوۡمَ يَدۡعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَيۡءٖ نُّكُرٍ ٦

نو( ای پیغمبره! د تبلیغ او دعوت درسپارل شوې وظیفه سرته رسوه او ) له معاندو منکرینو نه مخ واړوه، تر هغه چې رابلونکی( اسرافیل) یې یوې نا اشنا او ویروونکې صحنې ته راوبلی.

خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ٧

په داسې حال کې چې سترګې به یې( د سختې ویرې له امله) مړاوې او د خورو ورو ملخانو په شان به له قبرونو راپورته کیږی.

مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ۖ يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ٨

په منډو منډو به د هماغه بلونکی( اسرافیل) په لور ځغلی او کافران به وایی دا څه بده او سخته ورځ ده( چې په مونږ راغله).

۞ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ٩

له دې وړاندې د نوح قوم( چې پیغمبرانو) ته یې د درواغو نسبت کاوه، زمونږ بنده( نوح) یې هم درواغجن وګڼه او ویې ویل: دی خو یو رټل شوی لیونی دی.

فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ١٠

( نوح له سلهاو کلونو بې ګټې وعظ او نصیحت او د خپل قوم له خوا د زجر او شکنجو له زغملو وروسته) خپل رب ته لاسونه پورته کړل او دعا یې وکړه چې زه مغلوب( او بې وسی ) شوی یم، نو مرسته مې وکړه( د دوی له زور ظلم نه مې خلاص کړه او انتقام مې ترې واخله).

فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ١١

( نو د نوح د دعا په استجابت کې مو د هغه په قوم ) د تند او تیز باران د وربښت لپاره د آسمان دروازې ورخلاصې کړې.

وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ١٢

او له ځمکې مو چینې راوبهولې، چې د آسمان او ځمکې اوبه د یوه ټاکل شوی هدف لپاره سره یو شوې.

وَحَمَلْنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ١٣

او نوح مو له تختو او میخونو څخه ( په جوړه شوې) کښتی کې( د امن سیمې ته) ولیږداوه.

تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ١٤

**چې زمونږ د څارنې لاندې روانه وه او دا د هغو کسانو لپاره مکافات ورکول وو، چې د دروغو( ناحقه تاپې) ورباندې لګېدلې وې.**

وَلَقَد تَّرَكۡنَٰهَآ ءَايَةٗ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿١٥﴾

**او دغه کښتی( او د هغې واقعه) مو د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت د درس په توګه پرېښوده. نو آیا شته کوم نصیحت منونکی او عبرت اخستونکی؟**

فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٦﴾

**نو وګورئ چې بیا څنګه و، زما عذاب، او څنګه وه زما د اخطارونو( نتیجه)؟**

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿١٧﴾

**او بیشکه چې قرآن مو د پند اخستلو( او یادولو) لپاره آسان کړی، نو آیا شته کوم نصیحت منونکی.**

كَذَّبَتۡ عَادٞ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾

**عادیانو،( پیغمبران) دروغ وګڼل، نو( خبر شوئ چې بیا) څنګه و زما عذاب او څنګه وه زما د تنبیهاتو( نتیجه)؟**

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِي يَوۡمِ نَحۡسٖ مُّسۡتَمِرّٖ ﴿١٩﴾

**په یوه بدمرغه او شومه ورځ مو ورباندې( له عذابه ډکه)سخته توپانی سیلۍ ورواستوله.**

تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٖ مُّنقَعِرٖ ﴿٢٠﴾

**چې( دغه دنګ لوړ او تنه ور) انسانان به یې داسې په بل مخ راواړول لکه له ستې او بیخه راویستل شوې د کجورو ونې.**

فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾

**نو څنګه و، زما عذاب او څنګه و، زما د اخطارونو (عاقبت).**

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٢٢﴾

**او یقیناً چې قرآن مو د پند اخستلو( او یادولو) لپاره ډېر آسان کړی، نو آیا شته کوم پند اخستونکی؟**

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ﴿٢٣﴾

**ثمودیانو هم تنبیه کوونکی( پیغمبران) درواغ وګڼل.**

فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٗا مِّنَّا وَٰحِدٗا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾

**ویل یې: دا به نو زمونږ لویه ګمراهي او لیونتوب وی چې د یوه  بشر، هغه هم زمونږ د خپل قوم ( د یوه عام بې کسه او بې وسه وګړی) اطاعت وکړو.**

أَءُلۡقِيَ ٱلذِّكۡرُ عَلَيۡهِ مِنۢ بَيۡنِنَا بَلۡ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٞ ﴿٢٥﴾

**آیا په مونږ کې یوازې همدی دی، چې وحې پرې نازلیږی،( نه- هیڅ وحې وربانديې نه ده نازله شوې) بلکه دی ډیر لوی درواغجن او متکبر دی.**

سَيَعۡلَمُونَ غَدٗا مَّنِ ٱلۡكَذَّابُ ٱلۡأَشِرُ ﴿٢٦﴾

**( الله تعالی فرمایی:) سبا به پوه شی چې اصلی دروغجن او متکبر څوک دی؟**

إِنَّا مُرۡسِلُواْ ٱلنَّاقَةِ فِتۡنَةٗ لَّهُمۡ فَٱرۡتَقِبۡهُمۡ وَٱصۡطَبِرۡ ﴿٢٧﴾

**( صالح علیه السلام ته مو امر وکړ چې:) مونږ به د دوی د ازمیښت لپاره هغه اوښه( چې دوی یې غوښتنه کوی) ورواستوو، نو په کامل صبر او زغم د دوی( ناوړه) عاقبت ته سترګې په لار اوسه.**

وَنَبِّئۡهُمۡ أَنَّ ٱلۡمَآءَ قِسۡمَةُۢ بَيۡنَهُمۡۖ كُلُّ شِرۡبٖ مُّحۡتَضَرٞ ﴿٢٨﴾

**او هغوی خبر کړه چې د څښاک اوبه د هغوی او اوښې ترمنځ ویشل شوې او په نوبت دی، او هر یو به پخپل خپل وخت د اوبو لپاره راځی.**

فَنَادَوۡاْ صَاحِبَهُمۡ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾

**نو هغوی خپل بدبخته ملګری راوغوښت او هغه اوښه یې ژوبله او بیا یې( په بې رحمی سره ووژله).**

فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾

**نو بیا څنګه و، زما عذاب او څنګه وه زما د تنبیهاتو نتیجه؟**

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلۡمُحۡتَظِرِ ﴿٣١﴾

**یوه مرګونې هیبتناکه چیغه مو وربانديې ورواستوله چې ورسره سم ټول لکه( په اخور کې) د ژوبل شوې پروړې په شان ټوټه ټوټه( او زړه چاودی) پراته وو.**

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٣٢﴾

**بیشکه چې قرآن مو د پند اخستلو( او یادولو) لپاره آسان کړی، نو آیا شته کوم پند اخستونکی؟**

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍۭ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٣﴾

د لوط قوم هم پیغمبران درواغجن وګڼل.

إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ ۖ نَّجَّيْنَٰهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾

مونږ هم وربانديې (د تیږو او شګو) توپان ورواستاوه، چې ټول یې له یوې مخې تباه کړل، یوازې د لوط کورنۍ وه چې په سپیده داغ مهال مو وژغورله.

نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾

(دغه نجات په حقیقت کې) زمونږ له خوا نعمت (او رحمت) و، په همدې توګه مونږ هر شکرکوونکی ته اجر او مکافات ورکوو.

وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا۟ بِٱلنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

یقیناً چې لوط هغوی ته، زمونږ د سختې مؤاخذې اخطار ورکړی و، خو هغوی اخطار ورکوونکو ته د شک په سترګه وکتل.

وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا۟ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

او له لوط څخه یې د هغه د میلمنو( چې زمونږ رسولان وو، د لاسته راوړلو) غوښتنه کوله، چې مونږ هم په سترګو ړانده کړل،( او ورته مو وویل:) اوس وڅکئ زمونږ د عذاب خوندونه.

وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾

او سپیده داغ مهال مو یو سخت او دایمی عذاب ورباندې نازل کړ.

فَذُوقُوا۟ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾

( او ورته مو وویل:) واخلئ اوس زما عذاب او اخطارونو ته (د خپلې بې اعتنایی او بې پروایی د جزا)خوند.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾

او بیشکه چې قرآن مو د پند اخستلو( او یادولو) لپاره آسان کړی، نو آیا شته کوم پند اخستونکی؟

وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ ٱلنُّذُرُ ﴿٤١﴾

او فرعونیانو ته مو هم اخطار ورکوونکی( پیغمبران موسی او هارون) ورواستول.

كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَـٰهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

**خو چې زمونږ ټول دلايل( او نهه مشهور معجزات) يې دروغ وګڼل، مونږ هم پخپل پوره برلاسى او پياوړى ځواک سره راونيول( او له ټول لښکر سره مو د قلزم په بحر کې ډوب کړل).**

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُو۟لَـٰٓئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَآءَةٌ فِى ٱلزُّبُرِ ﴿٤٣﴾

**آيا ستاسو د عصر کافران غوره او پياوړى دى، که دغه( قومونه چې يادونه يې وشوه؟) آيا د معاصرو کافرانو لپاره په آسمانى کتابونو کې د ( فوق العاده) مصؤنيت کوم فرمان شته( چې دوى به په هيڅ جرم نه نيول کيږى؟)**

أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾

**يا دا چې وايى: مونږ يوه متحده او د يو بل ملاتړ کوونکې ډله يو( او خپل دښمنان په پوره قوت سره ټکولى او له منځه وړلى شو).**

سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾

**ډير زر به دغه متحده ډله( له مؤمنانو سره په مخامخ جګړه کې) ماتى وخورى او وبه تښتى( لکه چې په بدر، احزاب او نورو غزواتو کې دغه وړاندوينه رښتيا او تطبيق شوه او کافران له سخت ذلت او ماتې سره مخ شول. د کفارو د تيښتې په مهال همدا مبارک آيت د پيغمبر عليه السلام په مبارکه ژبه تکراريده:« سيهزم الجمع و يؤلون الدبر») .**

بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾

**( د کافرانو دغه ماتى او مرګ ژوبله کافى نه ده بلکه د عذاب اصلى او) ټاکلى وخت يې قيامت دى او رښتيا چې قيامت يو ويرووونکى او تريخ وخت دى.**

إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى ضَلَـٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾

**بيشکه چې مجرمين په ګمراهۍ او ليونتوب کې روان دى.**

يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِى ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا۟ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

**هغه ورځ چې پړمخې به په اور کې راکښل کيږى( او ورته به وويل شى:) خوند واخلى له عذابه.**

إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَـٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾

او بيشکه چې مونږ هرڅه په يوه ټاکلي اندازه پيدا کړي دي.

وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ﴿٥٠﴾

او زمونږ (فرمان) يو قاطعانه امر دی چې د سترګو په رپ کې( بايد تطبيق شي).

وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٥١﴾

او بيشکه چې مونږ ستاسي هم مسلکان( چې ستاسو نه وړاندې تير شوی د طغيان او عداوت له امله) تباه کړی
نو آيا شته کوم پند اخستونکی؟

وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ﴿٥٢﴾

او د دوی هر عمل په عملنامه کې ورته ليکل کيږی.

وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

او وړوکی او لوی( د خير او شر عمل) په هغه کې ثبت دی.

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَهَرٖ ﴿٥٤﴾

يقيناً چې پرهيزګاران به په جنتونو او( د الهی نعمتونو) د رودونو په غاړه ناست وی.

فِي مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِندَ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۭ ﴿٥٥﴾

د حق او صداقت په ډير غوره مقام او عاليشان مجلس او د قدرتمند مالک الملک و الملکوت پادشاه په حضور کې.

« تمت سورة القمر بفضل الله و رحمته»

====================